د اداری فساد پر وړاندی د څارنی او ارزونی خپلواکه ګډه کمیټه

کمیته مستقل مشترک نظارت و ارزیابی مبارزه با فساد اداری

Independent Joint Anti-Corruption Monitoring & Evaluation Committee

# رسنیزه اعلامیه

## د شتمنیو د ثبت او سپینولو نه اغیزمنتیا، د دولتي شتمنیو شوکولو ته لاره هواره کړې

کابل- افغانستان، د کب ۲ مه ۱۳۹۲ لمریز کال: د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې کمیټې (MEC) د وروستی څېړنې موندنې ښیي چې د لوړ پوړو چارواکو د شتمنیو د ثبت او سپینولو اړوند، د شتمنیو د ثبت او سپینولو د کړنلارې په اغیزناک ډول نه پلي کول د دولتي شتمنیو شوکولو ته لاره هواره کړېده. نوموړې کمیټې پدی اړه یو لړ سپارښتنې وړاندی کړیدی. تر څو نړیوالو ټرونونو ته د افغانستان د ژمنتیا، اساسي قانون او نورو قوانینو سره سم د شتمنیو د ثبت او سپینولو د سیستم د اغیزناک پلي کیدو څخه ډاډ ترلاسه کړي.

د افغانستان د اساسي قانون سره سم باید د دولت د کارکوونکو او لوړ پوړو چارواکو شتمنۍ ثبت، څېړې او سپینې شي، چې پر بنسټ یې د اداري فساد پر وړاندې د څار ستري اداري ته دا واک ورکړل شوی چې د دولتي چارواکو د مالي سرچینو د قانوني والي څخه ځان ډاډه کړي. دا په داسی حال کی ده چې کله کله د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې قانون او موجوده کړنې د اساسي قانون د غوښتنو سره په ټکر کې واقع کیږي.

د اداري فساد پر وړاندې د څار ستره اداره پدی اړ شوې چې د چارواکو شتمنۍ هر کال ثبت او څېړې کړي او د شتمنیو د غیرقانوني ډېریدو قضیې لوی څارنوالي ته وروپیژني. مګر نوموړې اداری په کلنۍ ډول د شتمنیو د ثبت، سپینولو او څېړلو اړوند خپله دنده په اغیزناک ډول نده ترسره کړې. چې دا د غیرقانوني شتمنیو د پټ پاتې کیدو لامل شوې. په پای کې د شتمنیو د غیرقانوني زیاتوالي قضیې د جزایی تعقیب په موخه لوی څارنوالۍ ته ندی ورپیژندل شوي. نو پر دې بنسټ د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکه ګډه کمیټه دا سپارښتنه کوي چې د اداري فساد پر وړاندې د څار د ستري اداري د شتمنیو د ثبت او سپینولو ریاست وړتیا ته باید وده ورکړل شي.

د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې قانون د شتمنیو ثبت او سپینول د «کله چې اړتیا وي» قید په اینښودلو محدود کړی. چې نوموړي قید واکمنۍ اداري ته د واک او د مادې د تفسیر او پلي کولو په چارو کې د ناوړه ګټې اخیستنې موکه برابره کړی. د دې سربیره د عدلیې وزارت هغو چارواکو ته چې د شتمنیو د ثبتولو څخه ډډه کوی او یا ناسم مالومات وړاندې کوی، د جزا په پام کې نیولو اړوند خپله دنده نده ترسره کړې. ولسي جرګه باید د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د قانون د مسودی چې د مګری ولسي جرګی ته د تصویب لپاره لیږل شویده، او د اساسی قانون د شتمنیو د ثبت او سپینولو اړوند مادی د ورته والی څخه ځان ډاډه کړي، تر څو د ټولو چارواکو شتمنۍ بې د استثنا نه ثبت شي. د دی سربیره د عدلیې وزارت باید د هغو چارواکو لپاره چې د شتمنیو د ثبت څخه ډډه کوي او یا ناسم مالومات وړاندې کوي، جزا وضع کړي.

ښاغلی (ډراګوکاس) د اداري فساد پر وړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې (MEC) اوسنی ریس وایي:
د شتمنیو د ثبت او سپینولو د سیستم سم پلي کول، د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره یوه اغیزناکه وسیله ده.
د څارنې او ارزونې کمیټه په افغانستان کې د اداري فساد پر وړاندې د ملي او نړیوالو هڅو د یوې خپلواکې څارونکې په توګه، په دې اړه چې څرنګه د افغانستان دولت د شتمنیو د ثبت او سپینولو سیستم وده ورکړي، یو شمیر سپارښتنې وړاندې کړې او د دې سپارښتنو د اغیزناک پلیتوب څخه به خپلې څارنې ته ادامه ورکړي.


د لا ډیرو مالوماتو لپاره د اداري فساد پروړاندې د څارنې او ارزونې خپلواکې ګډې کمیټې سره په اړیکه کې شئ: ۰۰۹۳۷۹۸۷۵۰۵۲۷

www.mec.af contact@mec.af

د کمیټې انځورونه له لاندې پتې څخه ترلاسه کولای شئ: www.flickr.com/photos/mec123/